DAILY
اراده
دافغان ننراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ ه ش

سال ششم شماره ۹۹
شماره مسلسل ۹۶۶
سه‌شنبه ۸ حمل ۱۳۸۵هش
۲۷صفرالمظفر ۱۴۲۷ ه ق
28 March, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC

## دولسي جرګي

# پرونی غونډه د ناڅرګندو عواملو له امله وځنډيده

تاکلي شوي وه چې ددوشنبې په ورځ دافغانستان ولسي جرګه دتيري غونډې په څير يو ځل بيا دولسمشر لخوا دنوی وړاندې شوی دابيني په سر خبرې وکړی خو دناخرګندو دليلونو له کبله دغه غونډه وځنډيدله.

دپارلمان ودانۍ ته راغلو ګڼ شمير وکيلانو دغونډې نه کيدو ته دشك په په سترګو وکتل. دولسي جرګي دخپلو لومړنيو ناستو را په ديخوا پريکړه کړې وه چې جرګه به په اونۍ کې په ترتيب سره درې عمومي ناستې کوی خو ددوشنبې په ورځ چې د جرګې دناستې ورځ وه په جرګه کې دناخرګندو دليلونو له کبله عمومي غونډه ونشوه او ګڼ شمير وکيلانو هم دعمومي ناستو نه کيدو ته دشك په سترګه کتل او ويلی چې بنايی په دغو حساسو شيبو کې دوزيرانو لپاره کمپاينونه اويا دپردي ترشا ګټي معاملي رواني وی.

ددوشنبې په ورځ دولسي جرګي ناسته په داسي حال کې د ناخرګندو دليلونو له کبله وځنډيدله چې هيوادوال يوازې دهغې ورځې لاره څاري چې ملی شورا به څه وخت او څنګه دولسمشر کرزی کابينې ته د اعتماد رايه ورکړی.

# دادن رای اعتماد به فرصت زمانی نیاز دارد

بحث فهرست پیشنهادی اعضای کابینه و دادن رای اعتمادبه ان نیاز به فرصت زمانی دارد این مطلب را رئیس کمیسیون تفتیش مرکزی و نظارت از قانون در ولسی جرگه اظهار داشت جاوید لودین رئیس دفتر ریاست دولت میگوید که اوردن تغیرات در کابینه به مقصد تقویت ظرفیت کارشناسی و اجرای درست عوامل رئیس جمهور است. اقای رنجبر میگوید که دادن رای اعتماد به فهرست اعضای کابینه ریاست دولت یک مدت را در برخواهد گرفت وی افزود که هدف عمده ان ساختن تشکیلات منسجم تر و کابینه کاری کوچکتر است . عنایت الله قاسمی وزارت ترانسپورت هم چنین میگوید که داشتن کابینه دارای ظرفیت کارشناسی نیاز به مدت زمان بیشتر دارد.

# مواد مخدر از موتر اردوی ملی به دست آمد

یک موتر نیروهای اردوی ملی حامل مواد مخدر توسط ماموران پولیس شاهراه شمال توقف داده شد .

به گفته پولیس شاهراه ازین موتر مقدار ۳۰۰ کیلو گرام مواد مخدر شامل تریاک و چرس بدست امده است. جنرال خلیل رییس پولیس شاهراه شمال گفت زمانی که پولیس میخواست در مسیر راه بغلان کابل این موتر داتسن وابسته به اردوی ملی را متوقف سازد اما انها به پولیس توجه نکرده و بالای پولیس تیر اندازی کردند.

ص۴

# د ميرمنو او انجونو دحالت په باره کې انديښنه

په هيواد کې د ملګرو ملتونو سازمان د ميرمنو او انجونو دوضعيت په هکله انديښنه ښودلې ده.

ددغه سازمان چارواکو ويلی چې لاهم په هيواد کې ښځې له ګڼو ستونزو سره مخامخ دی.

بل پلوه ډير شمير ميرمنې هم شکايت کوی چې دښځو دچارو وزارت يې ستونزو ته نشی رسيدلی. دملګرو ملتونو دکوچنيانو څخه دملاتړ سازمان يا يونيسف ويلی دی چې په هيواد کې هر ورځ کابو ۵۰ ميرمنې دولادت په مهال خپل ژوند له لاسه ورکوی

۴مخ

# په سنګين ولسوالی کې اوه طالبان وژل شوی

ددفاع وزارت وايی چې دهلمند په سنګين ولسوالی کې يې بيګاه شپه دخپلو عملياتو په ترڅ کې اوه طالبان وژلی او شپږ نور ژوبل کړی دی. ددفاع وزارت وياند جنرال عظيمی ددې پيښې پخلی وکړ او زياته کړه چې په دې نښته کې دملی اردو يو سرتيری هم ټپی شوی دی چې وروسته بيا روغتون ته انتقال شو. او ددوی په وينا اوس يې روغتيايی حالت ښه دی نوموړی وويل په دغو عملياتو کې چې په هملند کې د ۲۰۷ نمبر قول اردو څواکونو پرمخ بيولی دملی اردو دوه موټرې هم وجاړې شوی دی.

# یک بال هلیکوپتر سرنگون شد

یک هلیکوپتر نیروهای بین المللی حافظ صلح سحرگاه دیروز در منطقه تنگی مومند ولسوالی سپین غر ولایت ننگرهار سرنگون شد. امر مطبوعاتی قوماندانی امنیه ولایت ننگرهار وقوع این رویداد راتائید کرد و گفت که درین رویداد هلیکوپتر یاد شده تخریب شده وتلفات جانی در پی نداشته است. بر بنیاد یک خبر دیگر پولیس ولایت ننگرهار پنج دزد را که میخواستند اموال یک کانتینر را که مربوط نیروهای امریکایی بود دزدی کنند در شهر جلال اباد دستگیر کرده اند. سمونوال عبدالغفور امر مطبوعاتی قوماندانی امنیه ولایت ننگرهار میگوید که دزدان یادشده در چندین مورد دزدی دیگر متهم هستند.

# څلور مړه او پنځه ټپيان

دهلمند په ولايت کې هغه مهال يو برتانوی سرتيری مړ او درې تنه نور ټپيان شول چې دسپرلی موټر مخامخ يو تراکتور سره ټکر وکړ.

دغه راز ديکشنبې ورځې پر مازديګر دهلمند ولايت دګرمسير په ولسوالی کې پر يوه ملکی موټر دماين دچاوديدو له امله درې تنه وو ملکی وګړی مړه او دوه تنه نور ټپيان شوی دی. دماين دچاودنې دا پيښه د يکشنبې دورځې مازديګر دپنځو بجو په شاو خوا کې دهلمند ولايت د ګرمسير ولسوالی اړوند سيمه کې هغه مهال رامنځته شوه چې يو لينی تيوټا ډوله موټر چې مسافرين پکې

# له بده مرغه زموږ په هيواد کې شخصيتونو لپاره وزارتونه جوړيږي

۲مخ

[illegible]

## سرمقاله

### د اوسنۍ کابينې لست ته ډيرې سواليې ايښودل شوي دي!

په دې ورځو کې دهيواد په مطبوعاتو کې دولسمشر حامد کرزی له خوا د هيواد ستر او با صلاحيته تقنينی ارګان ته دجوړې شوی کابينې لست وړاندې شوی تر اوسه پورې دوړاندې شوی لست په باره کې دولسي جرګې له خوا دتاييد اويا ردولو څه پريکړه نه ده شوې خوپه مطبوعاتو کې نوموړی لست له بيلابيلو خواوو تر کلکو او ترخو نيوکو لاندې نيول شوی دی ځکه چې نور د اولسونو حوصلې پای ته رسيدلی خلك له ازادی څخه په استفاده چې اساسی قانون ورکړې ده ددې حق لرې چې دنوموړی لست له مخې په کابينه باندې نيوکې وکړی.

دولسمشر کرزی په دغه وړاندې شوی لست کې که دنوو څيرو په هکله چې تراوسه پورې پيژندل شوی نه دی څه ونه وايو دا خو ويلای شو چې دهمدغو پخوانيو څيرو په شته والی کې رشوتونه اختلاس، بې کاری، اداری فسادونه ، بې کاری اوج ته رسيدلې ده دوی دخپلو ادارو په دننه کې له اجراآتو، کړنو او بيروکراسۍ څخه ځانونه نه دی خبر کړی او يا يې پخپله مخه نه ده نيولې اکثره يې له خپلو دفترونو خوځيدلی نه دی چې له خلکو سره وګوری دوی يوازې په خپلو تشو ژمنو وخت تير کړی اويوازې يې دګزارشونوپه وړاندې کولو سره دخلکو په سترګو کې خاورې وروشيندلې خو دوی لادې ټکی ته نه دی متوجې شوی چې نن سبا افغان اولس هغه پرونی اولس نه دی چې په برخليك يې لوبې وشي او همدغه وزيران وو چې دخپلې کمزورۍ له امله يې دولسمشر کرزی حيثيت او باور ته دخلکو په وړاندې صدمه ورسوله

۴مخ

# له بده مرغه زموږ په هیواد کې د شخصیتونو لپاره وزارتونه جوړیږي

**د ورځپاڼې پدې ګڼه کې مو د راتلونکې کابینې په هکله دي افغانستان د علومو د اکاډمی له غړې سر محققې غوټی خاورې سره مرکه کړې ده چې له ګرانو لوستونکو سره به یې یو ځای ولولو.**

**نابلد**

د علومو د اکاډمی سرمحققی غوټی خاوری! ولسمشر کرزی له زیات وخت وروسته پدی موفق شو چې د کابینی لست ملی شورا ته د تائید یا ردولو په خاطر وړاندی کړی تاسو څه فکر کوی چې ولسمشر کرزی به په دغه لست کې موفق وی او که بیا به هم د خلکو د انتقادونو لاندی وي؟

- ما هم دغه نوی لست وکوت له بده مرغه ما پدی لست کې وکتل چې یوازی ځایونه بدل شوی او څیری هماغه پخوانی څیری دی کوم تغیر په کې نه دی راغلی د جناب کرزی په لست کې د داسی کسانو نومونه راغلی دی چې د دوی تیری کړنی او کارکرده ګی د افغانستان د خلکو لپاره د منلو وړ نه وی یعنی دغې کابینی و نشو کولای د اولس غوښتنو ته مثبت ځواب ووایی زه داسی فکر کوم چې دغه کسان چې راغلی البته په دوی کې ځینی کسان دی چې بیخی نوی څیری دی له هغوی سره څوك بلد نه دی د هغوی سابقه چاته نه ده معلومه او ځینی هماغه زړی څیری دی او ځینی داسی دی چې د یو وزارت نه بل ته تبدیل شوی دی دازما شخصی نظر دی که چیری یو وزیر په یو وزارت کې موفق وی پری د ښودل شی چې هماغه وزارت کې و اوسی او که چیری په یوه وزارت کې موفق نه اوسی نو څنګه امکان لری چې په یوه وزارت کې موفق نه اوسی او هلته ونشی کولای چې کار وکړی خو له بده مرغه جناب کرزی همیشه چې کله یې یو وزیر له کاره ګوښه کړی اړوند تنظیم یا حزب یا قوم تری نه ناراضه شوی دی د راضی کولو لپاره یې د هغه شخص لپاره یو مستقل کمیسیون ایجاد کړی دی یا یې کوم نوی وزارت لکه د ځوانانو وزارت د ښځو وزارت د مخدره موادو وزارت داسې وزارتونه یې ورته ایجاد کړی دی په نوره نړی کې شخصیتونه مهم سیاسی او با دانشه شخصیتونه وزارتونو لپاره ټاکل کیږی مګر له بده مرغه زموږ په هیواد کې د شخصیتونو لپاره وزارتونه جوړیږی.

- یعنی ستاسو هدف دادی چې ولسمشر کرزی به د ځینو فشارونو لاندی راغلی وی د فشار تر اغیز لاندی به یې دا کابینه جوړه کړی وی که څنګه ؟

- یقیناً زه هم داسی فکر کوم چې دغه موجوده کابینه چې یو دوه دری وزیران زه به کې نشم یا دولای که هغه تری نه وباسی واقعاً چې په کرزی باندی بیلا بیل فشارونه موجود وو او د فشارونو لاندی یې دغه کابینه جوړه کړی ده.

کله کله چې موږ داسی وایو چې په وزارتونو کې متخصص وزیران نه دی ټاکل شوی جناب کرزی او د هغه اطرافیان داسی استدلال کوی چې وزارتونه سیاسی پوستونه دی له بد مرغه هغه کسان چې په وزارتونو کې ګماری سیاسی پوهه هم نه لری پالیسی هم نشی جوړولی دا به ومنم چې وزارتونه سیاسی پوستونه دی مګر اکثره معینان چې دوی ټاکی هغه هم اکثره سیاسی کسان وی او مسلکی کسان نه دی او بدبختانه د یو وزارت نه بل وزارت ته د یو وزیر په بدلیدو سره یو ډول هرج و مرج په هغه وزارت کې رامنځته کیږی اکثره معینان او ځینی رئیسان له حساسو پوستونو څخه بدلیږی او د وزیر په خوښه نوی رئیسان او نوی معینان هلته راځی او په کار پیل کوی زه دی ته هم خوشبینه نه یم چې د ځینو وزارتونو نه ځینی وزیران لیری شول او پدی زړه خوشاله کړو چې دا وزیران لیری شول ځینو وزیرانو وزارتونه کاملاً محلی کړی دی په ډیر مهمو او حساسو پوستونو کې یوازی ملی نه، محلی شخصیتونه هلته مقرر شوی دی نو که دا نوی وزیر هم یو وزارت ته ځی نو چې هغه وزارت ته ځی نو په هغه وزارت کې ورته پخوانی وزیر د ژبنیو او قومی تعصباتو زړی کرلی وی چې په مشکل سره به دغه وزیر که څه هم ډیر د پوهی دانش او سیاسی پوهی خاوند هم اوسی پدی موفق شی چې هغه وزارت دی اداره کړای شی.

- اوس ولسمشر کرزی پارلمان ته د خپلی نوی کابینی لست ورکړی دی تاسو څه فکر کوی چې پارلمان ورته رایه ورکړی او که نه دده دغه وزیران به ډیر رد کړي؟

- له بده مرغه په پارلمان کې هم په پارلمانی انتخاباتو کې جعل او تقلب وشو د اولس رښتینی نماینده ګان پارلمان ته لاړ نه شول پخوا خلکو داسی فکر کاوه چې څه که چیری ولسمشر کرزي د ځینو فشارونو له امله کابینه جوړه کړی او وړتیا ونه لری او په کابینه کې وزیر اوسی که یې پارلمان ته معرفی کړی په پارلمان کې د اولس نماینده ګان شته خلك دیته ډیر خوشبینه وو.

هغه به رد کړی بدبختانه اوس په پارلمان کې د اولس رښتینی نماینده ګان ډیر په اقلیت کې دی د هغوی رایی ډیری کمی دی.

دلته کیدای شی دوه خبری شوی اوس یوه خبره داده چې کیدای شی ولسمشر کرزی د پارلمان له غړو سره په انفرادی توګه یا هم د پارلمان له رئیس سره تفاهم کړی اوسی په دغه موجوده کابینه باندی چې په هغه صورت کې به دا د پارلمان له خوا تائید شی او که چیری دغه تفاهم نه وی شوی او ولسمشر کرزی د خپل صلاحیت له مخی چې په اساسی قانون کې ورته ورکړ شوی او دغه کابینه یې جوړه کړی وی په هغه صورت کې کیدای شی د پارلمان له فلتر نه دغه کابینه راووځی ځکه هلته په پارلمان کې مختلفی ډلی دی مختلف ګروپونه دی واړه او لوی ګروپونه دی چې هغه په یوه خوله او یو اواز سره نه دی کیدای شی چې ځینی له دغو وزیرانو ته تائید شی ځینی یې رد شی او کیدای شی ټول یې رد یا تائید شی.

- د څلورو کلونو په موده کې چې کوم وزیران ټاکل شوی و دوی ونشو کولای چې موجوده ګډوډی له منځه یوسی نو که اوس د تائید رایه واخلی.

٦ څه فکر کوی چې د دوی کاری خواوی به پیاوړی نشی او موجوده نیمګړتیاوی به پای ته ونه رسوی.

- زه فکر کوم چې په وزارتونو کې د اړیکو پالل سیاسی کول قومی کول د حساسو پوستونو خرڅول رشوت غیر قانونی د وزارتونو تغیر او تبدیل بنسټیز شوی او په اجتماعی فرهنګ بدل شوی یعنی د کرزی لپاره ضرور وه چې سیستم یې جوړ کړی وای دلته سیستم ناروغ دی نظام ناروغ دی اول باید نظام او سیستم ورغول شی بیا وروسته اشخاص او افراد بدل شی.

یعنی د اکثرو هماغه زړی څیری دی چې ما وویلی د جناب کرزی په شاوخوا دوه دری سوه کسانو یوه حلقه تری جوړه کړی او دا یې په خپله محاصره کې راوړی همدغه کسان دی چې کله وزیر شی کله معین شی کله سفیر شی کله د خپلواك کمیسیون رئیس شی او کله لا بیا په بهر کې د هیواد د نماینده په توګه و نومول شی یعنی که یو څوك په یوه وزارت کې موفق نه وی سیاسی پوهه ونه لری هغه څنګه کولای شی چې په بهر کې د یو هیواد استازیتوب وکړی.

- ستاسو په نظر باید ولسمشر کرزی څنګه لست جوړ کړی وای؟

چې کارونه یې سم سرته رسولی وای.

- دغی کابینی ته خلك په انتظار وو خلکو ورته ورځی شپی شمیرلی بدبختانه د خلکو د انتظار خلاف دغه کابینه جوړه شوه یوه بله خبره چې ما کوله هغه داده پدی کابینه یوه غټه نیمګړتیا داده چې د ښځو ونډه په کې کم رنګه ده یوه ښځه وزیره لرو پدی نوی کابینه کې چې هغه فکر کوم چې د ښځو وزارت د پارلمان له خوا رد شی او د پخوا غوندی د میرمنو ټولنو په ریاست بدل شی د ښځو ونډه په پارلمان کې کم رنګه ده په اساسی قانون کې دا ماده تصویب شوی ده چې ۲۵ % ښځی باید په پارلمان کې اوس کیدای شی چې په حکومت که ۲۵ % نه وی ۱۰ % خو دی وی.

یوه بله خبره چې ما غوښتل ورته اشاره وکړم د افغانستان په ټولو قومونو کې موږ داسی ښځی لرو چې تر ځینو نارینه وو یې د پوهی په لحاظ د مسلکی او فنی تخصص په لحاظ یعنی هغوی اوچتی دی خو له بده مرغه هغوی ته په حکومت کې هیڅ ډول ونډه نه ده ورکړل شوی یوازی د یو دوو مشخصی قومونو ښځی همیشه د ښځو په وزارت کې پاتی شوی دا ددی مانا لری چې ایا د افغانستان د اساسی قانون په اساس ټول افغانان د قانون په وړاندی دمساوی حقوقو خاوندان دی که د هر قوم وی که په هغو قومونو کې وړ ښځی وی هغه باید راشی چې بدبختانه مو د ښځو په وزارت کې ولیدل چې صرف د یو یا دوو مشخصو قومونو ښځی د ښځو وزارت ته راغلی او نور نه.

د قومونو له ترکیب نه که تیر شو.

خو له قومونو څخه یې هغه کسان راوستی چې هغه په خپل قوم کې هم د خلکو لپاره د منلو وړ نه دی د قوم محبوب شخصیتونه نه دی د قوم متخصص شخصیتونه نه دی د قوم پوه شخصیتونه نه دی باید نوی نظر په کې وشی که قومی ترکیب یې سم وبولو د قومونو په شخصیتونو کې باید فکر وشی.

- که دغی اوسنی کابینی ته پارلمان د باور رایه ورکړی د خلکو او کابینی ترمنځ راتلونکو ارتباطاتو په هکله ستاسو نظر څه دی؟

- په موجوده حالت حکومت او دولت اعتماد ورو ورو له لاسه ورکوی چې تر اوسه پوری په څلورو کلونو کې د جناب کرزی حکومت دخلکو اعتماد تر لاسه نه کړی شو .

تشکر ستاسو له مرکی نه

ACKU

متصدی: نرگس

# زن را، مادر را، ستایش کنیم!

**مطالعه** تازه ای در هالند نشان می دهد احتمال آنکه مادران مسن تر دوگانگی آبستن شوند بیشتر است زیرا بدن آنها در مقایسه با زنان جوانتر برای تولید چند تخمک به طور همزمان در یک سیکل قاعدگی آمادگی بیشتری دارد.

به گفته محققان مرسوم شدن معالجات بارداری به خودی خود نمی تواند نرخ تولد دوگانگی های غیرهمانند را توضیح دهد.

پژوهشگران دانشگاه ورایا در آمستردام روند رشد فولیکول (کیسه ای که تخمک در آن تولید می شود) در بیش از ۵۰۰ زن را مطالعه کردند تا دریابند چرا بیش از یک تخمک با کیفیت خوب در بدن زنان مسن تر تولید می شود.

نتایج این مطالعه در نشریه "تولید مثل انسانی" چاپ شده است.

دوگانگی های همانند زمانی به وجود می آیند که یک تخمک بارور دو قسمت شده و به دو جنین تبدیل می شود، اما دوگانگی های غیرهمانند از ابتدا حاصل دو تخمک بارور شده جداگانه هستند.

دوگانگی های غیرهمانند تقریبا سه چهارم کل دوگانگی ها را تشکیل می دهند.

در یک سیکل عادی قاعدگی، ترشح "هورمون محرک فولیکول" (FSH) باعث بلوغ یک فولیکول حاوی تخمک در تخمدان می شود. این فرآیند به گونه ای کنترول می شود که وقتی فولیکول به اندازه کافی رشد کرد، سطح تولید "اف اس اچ" افت می کند.

دانشمندان هالندی رشد و توسعه فولیکول را در ۹۵۹ سیکل طبیعی قاعدگی در زنان مورد مطالعه تحلیل کردند.

همه آنها به دلیل ناباروری یا ناتوانی خفیف مرد در بارور کردن آنها تحت معالجه از طریق تلقیح "درون زهدانی" بودند. در این روش اسپرم مستقیما در رحم کاشته می شود.

پژوهشگران متوجه شدند که رشد فولیکولی تخمدانی چندگانه - که در آن طول چند (در مقابل یک) فولیکول از ۱۴ میلیمتر بیشتر بود - در ۱۰۵ زن روی داد.

از این ۱۰۵ زن تنها پنج نفر زیر ۳۰ سال داشتند، ۴۵ نفر ۳۰ تا ۳۵ ساله بودند و ۵۵ نفر بقیه بیش از ۳۵ سال داشتند.

غلظت "اف اس اچ" به تناسب سن افزایش می یابد، خالاچه رشد فولیکولی در زن یگانه باشد چه چندگانه.

اما زنانی که فولیکول های چندگانه تولید کردند مقدار بیشتری از این هورمون در بدنشان بود.

در دوره سنی ۳۸ سالگی تا ۴۸ سالگی که آخرین مهلت زمانی برای باردار شدن به حساب می آید، غده هیپوفیز بیشتر و بیشتر "اف اس اچ" تولید می کند تا رشد یکی از معدود فولیکول های باقی مانده قابل دوام را تحریک کند.

مطالعه دانشگاه ورایا نشان داد که در برخی زنان میزان "اف اس اچ" همچنان بالا و بالاتر می رود به طوری که از حد لازم برای گذاشتن یک تخمک تجاوز می کند.

در اکثر موارد این وضع به بارداری چندگانه (دوگانگی یا چندگانگی) نمی انجامد زیرا شمار فولیکول های باقی مانده حاوی تخمک های با کیفیت خوب بسیار کم است.

اما اگر دو یا چند فولیکول با تخمک هایی دارای کیفیت خوب موجود باشد، در آن صورت امکان وقوع همزمان تخمک گذاری دوگانه یا چندگانه وجود خواهد داشت که احتمال تولد دوگانگی یا چندگانگی را افزایش می دهد

احتمال داشتن
فرزندان دوگانگی
برای زنان مسن
تر بیشتر است



## زنی که فرماندهی ۱۵۰ مرد مسلح را دارد

در میان کوههای سر به فلک کشیده ولایت بغلان، تنها زن جنگ سالار افغان، همچنان به قلمرو تحت کنترولش چسپیده است.

اما روزهای یکه تازی بی بی عایشه معروف به کفتر، رو به پایان است چرا که دولت و حامیان بین المللی، قصد دارند او را خلع سلاح کنند.

کفتر از این که دیگر به راحتی دوران جوانی اش نمی تواند نشانه گیری کند شکایت دارد و می گوید: "چشمانم کم بین شده است".

کفتر با رد تصوراتی که می گوید جایگاه زن در جامعه مانع حضور او در خط مقدم جنگها می شود، می گوید: "من هنوز هم در آرزوی جنگ هستم".

او می گوید: "اگر قلب یک جنگجو در سینه شما باشد، هیچ فرقی ندارد که شما مرد باشید یا زن".

کفتر با نیروهای طالبان، نیروهای شوروی و رقیبان محلی در مناطق کوهستانی نارین، جنگیده است. لاشه های تانک های طالبان و شوروی سابق هنوز در این منطقه دیده می شود.

او ادعا می کند که ۱۵۰ مرد تحت فرماندهی او قرار دارند. تخمین سازمان ملل متحد این است که برای دست کم ۵۰ نفر اسلحه دارد.

اکنون مقامات برنامه خلع سلاح گروه های مسلح غیرقانونی، که وابسته به سازمان ملل متحد است می گویند که امیدوارند در طی ماه های آینده برنامه خلع سلاح کفتر را شروع کنند.

ولی مانند بسیاری از ۲ هزار گروه مسلح غیرقانونی بعید به نظر می رسد بتوان بسهولت کفتر را خلع سلاح کرد.

البته او می گوید که هم اکنون تمام سلاح های خود را بجز یک تفنگچه مدل ماکارف روسی، تحویل داده است.

کفتر بخصوص از این که در برنامه قبلی خلع سلاح، یک تفنگ قدیمی انگلیسی مدل لی- انفیلد را واگزار کرده بسیار ناراحت است.

# د ښځو تاریخ ته یوه کتنه

پورتني سرليك دهغه کتاب نوم دی چې دښځودنړيوالي ورځې په وياړ مرحوم محمدعلم بخرکي په خپل ژوندکې دښځوداحترام په خاطرليکلې و

دغه کتاب چې دمرحوم محمدعلم بخرکي دوړستيوشيبودکاراو فعاليت نتيجه ده چې دښځو تاريخ ته يوه کتنه ده مرحوم محمدعلم بخرکی په ۱۵کلونوکې دافغانستان اودنړۍ ښځوته له ډيرتحقيق څخه وروسته يو داسي علمي اثروړاندې کړچې ميرمنواوښځوته په هره برخه کې ريفرنس او ماخذ کيداى شي.

نوموړى اثرچې په۱۸۸مخونوکې خپورشوي دى ۹۰عنوانه لري اودماقبل تاريخ څخه بيا ترنن ورځې پورې په هره برخه کې په زړه پورې معلومات لري اوښځه دتاريخ په اوږدوکې بيا ترنن ورځې پورې په علمي اومذهبي ډګرکې، په ناخوالو اوقهرمانيو کې يا هغه څه چې دتاريخ په اوږدوکې پردوي تيرشوي دي څیړې دیو، علمي اوتاريخي ريفورم په توګه دنومړي کتاب څخه ګټه اخيستل کيداى شي. نوموړى کتاب چې دښځو د نړيوالي ورځې د درناوي پرخپل وخت خپورشو داحمدشاه بابادعلمي ادبي ټولنې په هلو ځلوسره خپورشوي دی



# مسوولین له خلکو ځانونه لیری کوی

قادر

د هری ټولنی د مختـه تګ په لوري خوځښت او حرکت د هغی ټولنی د اوسیدونکو د هیواد پالنی له احساس او په هغه ټولنه کې د قانون له تطبیق څخه ځرګندیدای شی خو له بده مرغه چې زموږ په ټولنه کې د تیرو لسیزو د جګړو په اوږدو کې دغه دواړه نیمګړتیاوی نه یوازی دا چې له منځه تللی نه دی بلکی لا زیاتی شوی دی او له هر چا سره د ضرورت څخه زیات د پیسو د لاسته راوړلو مینه زیاته شوی ده د پیسو د لاسته راوړلو مینی وکړای شول چې د زیاتو ملی احساس ته صدمه ورسوی قانون تر پښو لاندی او قانونیت له منځه لاړ شي د قانون په نه تطبیق سره یې ان چې ټولنیزو اړیکو ته هم ګوزارونه ورکړی دی په ټولو دولتی ادارو کې په مرکز او ولایاتو کې له دولتی ادارو څخه د هیواد والو

شکایتونه پورته شوی دی او هیواد وال په ادارو او لارو کې له بډو ورکولو څخه شکایت لری که څه هم مونږ د بډو د اخیستلو مسوولیت یوازی په اخیستونکو نه بلکی په ورکوونکو باندی هم اچوو ځکه چې خپله هیواد والو د خپلو روا او ناروا کارونو د تطبیق او سرته رسولو کولو زمینه یې برابره کړی ده ددی ستونزو د را منځته کیدو او زیاتوالی یو ډیر مهم علت چې مسوولین ورته متوجی نه دی یا نه غواړی متوجی شی دادی چې خپله مسوول او با صلاحیته چارواکی د خپلو ادارو او کار کوونکو له کار او د مراجعینو په وړاندی له چلند او بډو جیبونو په ډکولو څخه ځکه بوخت دی چې هغوی پدی باور لری چې خپل مسوولین یې ورته نه راځی او مراجعین د شکایت لپاره مسوولین خپلو ادارو ته نه پریږدی.

له تقاضا او اصولو خلاف د هرسپوړی چارواکی سکرترانو له ځانونه څخه مسوول چارواکی جوړ کړی دی شی.

باید خپل دفترونه د خلکو او مراجعینو پرمخ نه یوازی خلاص پریږدی بلکی د خلکو او مراجعینو انتقادونه واوری د هغو پوښتنه وکړی او هغه حل کړی خو پر خلاف خلك له مسوولو چارواکو سره لیدل نشی کولای یا ورته زمینه نه برابریږی چې ورشی. کارونه یې په ورځو ورځو پاتی کیږی او مجبوریږی چې پیسی ورکړی او خپل کارونه پری خلاص کړی اوس که زموږ وزیران د پارلمان نه خوا ومنل شی او د وخت موده یې هم اوږده شی.

لپاره تل اړوندو مامورینو ته د رشوت ورکولو زمینه برابره کړی ده سره لدی چې د بډو په ورکولو کې د واړه لوری د قانون په وړاندی مسوول لری خو دا چې قانون یوازی د کاغذ پر مخ پاتی شوی دی د ټولو ګډوډیو او بیروکراسی د رامنځته اخیستلو ځینی خبر نه لری.

یا ورسره شریك دی مسوولین په خپلو دفترونو نه ګرزی وزیران له ولایاتو خبر نه لری او والیان له ولسوالیو څخه خبرتیا نه لري.

هر څوك په خپله او د خپل په اندازه د خپلو او له یوه مراجعه کوونکی څخه په پوښتنو هغه مراجعه کوونکی په خپل ورتګ پیښمانه کړي. که چیری مسوولین چارواکی له خپلو ادارو څخه غواړی د سمو او پاکو کارونو د کیدلو په خاطر بری تر لاسه او د خلکو د قناعت دلیل

باید چې د وزارتونو په دننه کې پرتی ناخوالی او ګډوډی چې د څلورو کلونو په اوږدو کې پرتی دی تر هر څه ژر د ملی احساس درلودونکو کارکوونکو او مسوولینو په ټاکلو سره له منځه یوسی چې د اولس پراته انتقادونه پای ته ورسول شی.

# رای گیری پارلمان فلسطینی در باره کابینه جدید

پس از انتصاب کابینه جدید فلسطینی به رهبری جنبش حماس، قرار است موضوع رای اعتماد به این کابینه مورد مذاکره نماینده‌گان پارلمان قرار گیرد.

روز دوشنبه، ۲۷ مارچ، مجمع قانونگذاری - پارلمان - فلسطینی به منظور بررسی هیات دولت جدید تشکیل جلسه می دهد و در مورد رای اعتماد به این کابینه ۲۴ نفره را - که اکثر سمت های اصلی آن در اختیار اعضای حماس قرار گرفته - مذاکره و رای گیری می کند در حالیکه کسب رای اعتماد پارلمان تقریبا قطعی به نظر می رسد. در پی انتخابات پارلمانی ماه جنوری سال جاری، جنبش حماس ۷۴ کرسی از ۱۳۲ کرسی پارلمان فلسطینی را در اختیار گرفت در حالیکه جنبش فتح، دومین جناح عمده پارلمانی که رهبری آن را محمود عباس، رئیس تشکیلات خودگردان بر عهده دارد، تنها دارای ۴۵ کرسی است

# مواد مخدر از موتر...

اقای خلیل میگوید سرنشینان این موتر محموله های تریاک و چرس که مقدارش به ۳۰۰ کیلو گرام میرسد فرار کرده اما اسناد باقیمانده نشان میدهد که این موتر مربوط به قول اردوی شماره ۲۰۵ اتل ولایت هلمند بوده است ولی مقامات اردوی ملی تاکنون واکنش نشان نداده است. به گفته کارشناسان دست داشتن مقامات دولتی در قاچاق مواد مخدر در کشور اتهامی است که همیشه برسر زبانها بوده اما تاکنون هیچ یک از متهمین بلند پایه مواد مخدر دستگیر نگردیده است.

# د میرمنو او انجونو...

په داسې حال کې چې یو شمیر هغه میرمنې چې دکابل ښار په نږدې ولسوالی کې اوسیږي هم وایی چې لاتر اوسه کومه سرچینه نشته چې ددوی د ستونزو پوښتنه یې کړې وی. هغوی دعوا کوی چې په اړوندو سیمو کې د درانه اقتصادی ټولنیزو او ورته نورو ستونزو سره لاس اوګریوان دی. خو د ښځو دچارو وزارت دولایتی اړیکو رئیسه کریمه سالك وایی په ولایتونو کې میرمنو دحالت د ښه والی لپاره یې پلانونه نیولی دی دښځو دچارو وزارت دلندن په کنفرانس کې چې دوه میاشتې مخکې په بریتانیا کې جوړ شوی وه غوښتی وچې په سلو کې لس د افغانستان سره ژمنه شوی مرستې نوموړی وزارت ته ځانګړې کړی. خو ځینې میرمنې او کارپوهانو بیا دتیرو څلورو کلونو په اوږدو کې د ښځو دچارو دوزارت له خوا کړی کارونه ډیر کم او راتلونکو ته یې دشك په سترګه ګوری.

# د اوسنی کابینې په وړاندې...

دخلکو اودولت ترمنځ یې واټن رامنځته کړی دی. خو ولسمشر کرزی د بیلابیلو کورنیو او بهرنیو فشارونو لاندې دهمدغې پرونی مصلحتی کابینې څخه بیا ځنې اشخاص انتخاب کړی او څه نوی څیرې یې ورسره زیاتې کړی

دا چې دخلکو استازی ددوی په هکله څه تصمیم نیسی هغه دپارلمان صلاحیت دی. خو باید ووایو که چیرې دغه اوسنی کابینه دتایید رایی ترلاسه کړی

په دولت کې به موجوده ناخوالی او بدبختی دپرون په څیر نورې هم صعودی ګراف راخپل کړی او دهرې ورځې په تیریدو سره به د دولت او خلکو ترمنځ رامنځته شوی واټن نور هم زیات او دسراسری لوړې، بیکاری، فساد له امله به سراسری امن له ستر ګواښ سره مخامخ شي. اوپه دې توګه به دپارلمان باورهم راښکته شي.

# نگرانی صدراعظم عراق از درگیری آمریکاییان

در پی انتشار گزارش هایی حاکی از درگیری نیروهای آمریکایی با شبه نظامیان شیعه در بغداد، روز دوشنبه، ۲۷ مارچ، ابراهیم جعفری، صدراعظم عراق، مراتب نگرانی خود را به اطلاع مقامات آمریکایی رساند.

در همین حال، بنابر گزارش های تازه از شهر (عمدتا سنی مذهب) موصل در شمال عراق، دست کم ۱۵ نفر در انفجاری در یک مرکز مشترک نظامی آمریکایی- عراقی جان خود را از دست داده اند. پولیس موصل همچنین می گوید شمار زیادی در این حادثه، که به گفته برخی منابع احتمالا حمله انتحاری بوده است، زخمی شده اند.

روز یکشنبه، ۲۲ مارچ، گزارش شد که نیروهای آمریکایی با گروهی از شبه نظامیان وابسته به مقتدی صدر، از روحانیون تندرو شیعه، در نزدیکی مسجد مصطفی در بغداد درگیر شدند که در نتیجه آن، چندین نفر جان خود را از دست دادند. در مورد این درگیری اطلاعات متناقضی انتشار یافته و در حالیکه یکی از نزدیکان آقای صدر گفته است که نیروهای آمریکایی به افراد غیر مسلح در مسجد حمله بردند و بیست تن از آنان را کشتند، منابع آمریکایی اعلام داشته اند که عملیات توسط نیروهای عراقی اجرا شد و نظامیان آمریکایی تنها نقش مشاور را برعهده داشتند.

در اطلاعیه نظامی آمریکا آمده است که نیروهای ویژه اردوی عراق در سحرگاه روز یکشنبه عملیاتی را در محله احمدیه، واقع در شمال شرق بغداد، را با هدف جلوگیری از فعالیت یک سلول تروریستی به اجرا گذاشتند که اعضای مسئول حمله به نیروهای امنیتی عراق و سربازان ائتلاف و همچنین ربودن شهروندان عراقی در این محله بوده اند.

در اطلاعیه اردوی آمریکا آمده است که در این عملیات، شانزده نفر کشته شدند اما پولیس عراقی از کشته شدن بیست و دو نفر خبر داده است.

احمدیه از محلات بغداد است که طرفداران مسلح مقتدی صدر بر آن تسلط دارند. یکی از همکاران آقای صدر عملیات روز یکشنبه را حمله ای بی دلیل توصیف کرده است.

اخیرا زلمی خلیلزاد، سفیر آمریکا در عراق، خواستار مقابله با شبه نظامیان مسلح شده و آنان را مسبب ادامه نا امنی در این کشور خوانده بود.

وی همچنین ایران را به تامین مالی و تجهیزاتی گروه های شبه نظامی متهم کرده است.

در خبری دیگر از بغداد، گزارش شده است که پولیس این شهر اجساد بدون سر نه نفر را یافته است که به نظر می رسد پس از شکنجه، به قتل رسیده اند.

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یك شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com